ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۱/۲۸

# د نړۍ لومړۍ شاعره (ساپو/ Sappho)

یونان ته د علم و حکمت زانګو وايي. د پخوانیو تمدنونو په عروج او تنوع مشهور یونان نه یوازې په علم او ادب کې لوی رول لوبولی؛ بلکې د حسن او عشق لا زواله کیسي یې تر شا پرېښي، چې اوس هم د خلکو منځ کې په خوند خوند ویل کیږي.

پوهانو منلي چې یونان په ټولي دنیا د خپل ثقافت او تهذیب اثر پرېښی. په دغو با اثرو څېرو کې یوه؛ ساپو ده، چې اصل نوم يې پساپفو یا سیفو و. محققینو يې زمانه له میلاده تقریباً (۵۷۰ـ۶۳۰) پخوا ښودلی او ویلي یې دي، چې د شمالي یونان په لیسبوس نومي ښکلي جزیرې کې پیدا شوې.

ساپفو له رنګه توره کې یا غنم رنګې وه او قد يې ټيټ و. پلار یې د لیسبوس او ایتهنز جزیرو ترمنځ جګړو کې ووژل شو. ټول خاندان یې په سیاست او حکومتولی کې برخه اخیسته؛ مګر دې نه سیاست ته مخ کړ او نه يې کوم سیاسي عنصر په شاعرۍ کې شامل کړ. خو د دې باوجود تنکي پیغلتوب کې جلا وطنه شوه، چې بیا یو څه موده په سسلی کې اوسېده او وروسته د تل له پاره متیالین سیمې ته لاړه.

د یونان په زیاتره پخوانیو ریاستونو کې د ښځو/ نجونو د زده کړو کوم خاص بندوبست نه و؛ خو د لیسبوس اوسیدونکي نسبتاً ازاد خیاله وو او په ډېرو کورونو کې د نجونو سندرې ویل او زده کول عیب نه ګڼل کېدل. خپله ساپفو هم یو روزنځای جوړ کړی و؛ خو دې روزنځي هغې ته له شهرت سره سره بدنامي هم ورکړه او هغه یې په همجنس پرستي مشهوره کړه.

دا چې ساپفو په یو علمي چاپېرال کې را لویه شوې نو د جنسیت پرستي په اړه یې چې څومره کیسې مشهورې دي، د څېړونکو په وینا: خیالي دي!

خو په دې سبب چې شاعري یې خالصه رومانوي وه؛ نو ځینې څېړونکي يې لګیدلي تورونه سم بولي. دوی وايي: د ساپو په روزنځای کې ډېر ناواده شوې پېغلې اوسېدې او دې هم د حسن و عشق پیروي کوله.

د څېړونکو په وینا: انګلیسي کې د ښځینه جنس پرستي له پاره د کارېدونکي اصطلاح (Lesbianism) اصل ریښه د (لیسبوس) جزیرې ته رسیږي او دا ځکه چې هلته به ساپو خپلو پیغلو سهېلو ته چې نهایتاً ښکلي وې، د عشق اظهار په شاعرانه الفاظو کې کاوه.

په اردو ژبو ادیبانو کې (میرا جي او سلیم الرحمن) په ساپو ډېر لیکل کړي. میرا جي وايي: «د ساپو نه خوښېدل چې هیڅ بې هیڅه خپل وجود کوم نر ته وسپاري. هغې ځان د ټولني له اخلاقي اصولو ازاد باله؛ خو سره له دې د روح او جسم پاکیزه ګۍ ته قایله وه.»

بل لور ته ځینو پخوانیو انګلیسي ادیبانو ساپو طوایفه (ډمه/ نڅاګره) بللې؛ خو اوسنیو ټولو څېړونکو دا خبره په ګډه رد کړې او ځینو ان دا هم نه ده منلې چې ساپو دې همجنس پرسته وي.
سلیم الرحمن لیکلي: «د ساپو د همجنس پرستي په اړه ټول روایتونه مبالغه آمیز او فرضي دي. د دې لامل دا دی چې ساپو له لوی خاندانه وه او د شعر ژبه یې بېخي فاحشه وه؛ نو د کورنی ځینو غړیو او اشرافو دا ډول کیسې نشر کړې.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ

که یو لور ته د ساپو د همجنس پرستۍ دعوې کیږي؛ نو بل لور ته ځینو پوهانو لیکلي، چې ساپو له ګڼو نرانو سره هم د مینې لین درلود. په دغو مئینانو کې تر نورو ډیر مشهور (الکایوس) دی، چې خپله هم شاعر و. الکایوس غوښتل له ساپو سره واده وکړي؛ خو د ځینو نامعلومو دلایلو پر اساس یې واده ونشو.

ځینې داسې روایاتونه هم شته چې تر ې څرګندیږي: له اوږدې مودې وروسته د سیفو واده له یو مشهور تجار (کیرکلاس) سره وشو، چې یوه لور (کلیز) هم لري.

د همدې روایتونو له مخې: څه موده وروسته د ساپو خاوند مړ شو، هغه یو ځل بیا نوي عشق ته اوزګاره شوه او د فاۉن په نوم د متیالین سیمې په یو ملاح (کښتۍ چلونکي) باندې مئینه شوه. فاۉن په ښکلا کې له موره یو و. یو څه موده دواړه ګډ سره لیدل کېدل؛ خو بیا تر ې فاۉن لاره بېله کړه. د فاۉن بې وفایي ساپو در بدره کړه. تر دې چې کلونه کلونه یې بې معنا ژوند تېر کړ او بالاخره یوه وخت یې زړه بیخي تر ې موړ شو. بیا هغه ورځ هم راغله چې له یو لوی کمره نه یې (ایپي) سیند ته ور ودانګل.

د خودکشۍ پر مهال د ساپو عمر ۵۵ کاله و. له مرګه وروسته (الکایوس) یو شعر ورته ولیکه، چې معنا یې داسې ده:

بدبختي...

زه یوه بدبخته ښځه

چې په مسلسلو غمونو واوښتم

کور، کورنۍ

له دردونو ډک تقدیر

رسوایي...

د ژوند نه منونکی زوال راتلونکی دی

په ویرېدلي سینه کې یو ډار را پورته شو

جنون...

تباهي...

او د سمندر یخې څپې!

ویل کیږي چې د ساپو شاعري ۱۰ زره بیتونه وه؛ خو تر موږه یوازې ۶۵۰ بیتونه را رسیدلي. شاعري یې تر ډیره په ذاتي خیالاتو ولاړه وه او یوه برخه یې د واده سندرو ته هم ځانګړې شوې. دې په خپلې شاعرۍ کې د مذهب، خپلوانو او د زده کړو د ارزښت یادونه هم کړې. دا لومړۍ شاعره وه چې طبعي عناصر او مناظر (سپوږمۍ، لمر، هوا، سمندر او...) یې په خپلې شاعرۍ کې شامل کړ. لنډه دا چې د ټول یونان په تاریخ کې د ساپفو په څېر نرمه او زړه وړونکې شاعري بیا چا ونکړه.

اپلاتون ساپفو د هغې د شاعرۍ پر اساس لسمه اسماني پرېښته بللې وه. هغه ویلي: «خلک وایي چې د غیبو ویونکې اسماني پریښتې ۹ دي؛ خو دوی ناخبره دي؛ ځکه د لیسبوس ساپو ته هم وګوره! هغه لسمه پرېښته ده!»
ارسطو هم ساپو (مجسمه ښکلا) بللې او ځای ځای یې د هغې د شعرونو حوالې ورکړې.

پلوطارک لیکي: «د هغې شعر په شغلو کې نغښتی و.»

او په اخیره کې ټول پوهان په دې باور دي، چې ساپو تر ټولو ستره او لومړۍ ښځینه شاعره وه؛ ځکه چا هم د هغې په څېر ځانګړی تغزل نه درلود. د هغې شعر ډېر نادر او کمیابه و؛ که څه هم ډېر بیتونه یې ورک دي؛ خو هغه نیمګړي شعرونه او یو پوره نظم چې لوستونکی یې اوس هم د هغې په کلیات کې لوستلی شي؛ بیخي عجیب او خاص دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

لاندې د ساپو د څو شعرونو ژباړه ولولئ، چي انګليسي ژبې نه شوې ده!
:۱
يقيناً زه درسره مينه لرم
خو که ته هم راسره مينه لرې
له يوې پېغلې نجلۍ سره واده وکړه
زه نشم زغملی
چي يو ځوان هلک سره واوسېږم
ځکه زه زَړَه يم!
:۲
که څه هم دوی
يوازې ساګاني او لفظونه دي
خو چي زه امر ورکړم
نو تلپاتي شي
:۳
پرته له خبرتيا
د توپان په څير
د بلوط په ونې تيريږي
او مينه زما زړه ماتوي
:۴
شايد ته يې هېره کړې
خو اجازه راکړه چي درته ووايم:
يو څوک به
په راتلونکي کې
ما ډيره ياده کړي
:۵
ټولو ته ووايه!
نن، بلکي همدا اوس به
زه سندرې ووايم
د خپلو ملګرو د خوښی په خاطر

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ